مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوري ۲۰۲۴/۰۵/۲۴

وړاندیز قصر دارالامان

د دارالامان د دوو مانیو اړوند اسلامي امارت ته زما وړاندیز

نهه کاله پخواء مي ګران هېواد افغانستان ته، چې لنډ سفر درلود، د اعلیحضرت غازي امان الله خان (رح) د کور دارالامان خواء ته هم وروګرځېدم. هغه زمان دغه دوه تاریخي مانۍ خوار او زاري او خصوصاً لومړنۍ اداري مانۍ بشپړه ورانه پرته وه. عکس مي ورځیني واخیست او هغه د جهادي تنظمي جګړو (۱۹۹۶-۱۹۹۲ز)، چې زه به کابل او خوست ته په تګ او راتګ کې وم، ورانوونکي منظرونه مي سترګو ته بیا ودرېدل او په ژور خفګان مي مخ په چهلستون د خپل کور لار خپله کړله.

د دارالامان دغه دوه تاریخي مانۍ بلاخره د تېر جمهوري حکومت په وروستیو پنځه کلونو کې ټپرته په اساسي توګه بیا ورغول سولې او د شل کلنو جنګونو څخه روغې پاته سولې. اوس زه خبر سولم، چې دواړه دغه زړه راښکوونکي مانۍ او د هغه خدمتګار پاچا دغه عظیم ملت پال یادګارونه پخپل ویاړ سره ولاړ او د امارت اسلامي تر حفاظت لاندې دي. د ورځې له خواء ورته افغان وطن وال د لیدو لپاره ورځي او حکومت ورته د (۵۰) افغانیو دخولې ټکټ جاري کړئ ده.

زه د اطلاعاتو او فرهنګ و محترم وزیر صاحب ته وړاندیز کوم، چې د دغو دوو قصرونو لیدل ښایي کاملاً وړیا وي، او هر لیدونکي ته باید یو ټکټ د دخول ورکړل سي او د خروج پر وخت باید دا ټکټ ټپرته موظف مسوول ته تسلیم کړای سي. زما دوهم وړاندیز دا ده، چې د قصر په لومړي منزل کې یو اماني کتابتون پرانستل سي او د اماني لس کلن تاریخي زمان اړوند کتابونه، چې د افغان او خارجي لیکوالانو او محققینو له خواء مونږ ته راپاته دي، په دغه کتابتون کې د لیدو او خرڅلاو لپاره کېښودل سي او محترمو هېواد والو ته په ډېره ارزانه بیه دغه کتابونه تقدیم سي. خصوصا د مرحوم عزیز الدین وکیلي پوپلزایي هغه کتاب (سلطنت امان الله شاه غازی و استقلال مجدد افغانستان)، چې د مولف په لوی زیار او لوړ ملت پال احساس، په ۱۱۵۰ مخونو او دوو ټوکونو کې تدوین سوی ده. په دغه کتاب کې د اماني مستقل دولت د لسو کلونو وطن دوسته اجراعات او دا، چې محصل د استقلال په دغه موده د بادشاهي کې په څه بوخت ؤ، لوستونکي ته یو مهم او ارزښتناک انځور ورکوي، چې زما په رایه دا کتاب باید د کتابونو په سر کې اخذ د موقع وکړي. او هم ښایي دغه کتاب د محترم وزارت له خواء بیا تجدید د چاپ سي. دا ول زما لنډ عرایض، چې هېله مند یم اړونده حکومتي مقامات ورته عملي ګام واخلي.

پای

آرشیف: محترم ایاز نوری

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هېله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ